مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۸/۱۰/۱۹

# تــه هلـتـه لاخـطــاوې،
# چـــي تــلـي لـــه کـــنـدهـــاره

ساقي بـلا دي واخـلـم، وېـشه يــې تـــرســهــاره
خــمــار مــي د عــمرو دئ، تــوبــه مي لــه انــکاره

اظـهـار تـه د حق بويه، پـرې سـوي ښـارگـــونـه
دا زمــا خــبـره نــه ده، منـصـور کـړې لـــه داره

نـــارې د فـــراق اورم، لـــــه بــاغـه د بلبلـــو
اواز د بــېـلـتـانـــه دئ، راوزي لـــه چـيـغـاره

تـهـمـت رابـانـدي اوري، لـه خـپل و لـــه پـردیه
هـيـڅ دار ئــي تــه وا نسته، د زړونـــو لــه ازاره

کـه سر وي که مي مال وي، قربان دي تر جمال وي
واري دي تـــر ښـايـسـت وي، تر حُسن د نـگاره

پـېـښـوتـــه د نـېـکـانــو،پــه کـارډېـر ریـاضت دئ
شـاعـره! خـولـه دي مـيـنـځه پـه مشکو يـو ځـوواره

معصومه ټيک دي ورک دئ، په دې ارت جهان کي
تــه هلـتـه لاخـطـاوې، چـــي تـلـي لـه کـنـدهــاره

۱۵ اپریل ۲۰۱۳ع
آشاوا ـ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ